مرکز مطالعات استراتژیک و منطقوی

د ستراتېژيکو او سيمه‌ييزو څېړنو مرکز

# تحلیل هفته

**شماره: ۹۴** (از ۸ الی ۱۵ قوس ۱۳۹۳ هـ ش)

**این نشریه مجموعهٔ تحلیل رویدادهای مهم سیاسی و اقتصادی هفته‌وار است که به زبان‌های پشتو، دری، انگلیسی و عربی، توسط مرکز مطالعات استراتژیک و منطقوی تهیه و نشر می‌گردد، تا نهادهای سیاست‌گذار از آن استفاده نمایند.**

## آنچه در این شماره می‌خوانید:


- مقدمه ........ ۲

**افغانستان و جنگی که به بن‌بست رسیده است**

- آمار کشته‌های طالبان از سال 2001 ........ ۳
- تلفات نیروهای افغان ........ ۴
- کشتار غیرنظامیان ........ ۵
- وقتی جنگ به بن‌بست می‌رسد ........ ۵

**له طالبانو سره د ملګرو ملتونو تر څار لاندې خبرې اترې**

- د سولې پټې خبرې ........ ۸

**نوی حکومت او د افغانستان نړیوال مرستندویان**

- په افغانستان کې د ناټو نوی ماموریت ........ ۱۰
- د لندن کانفرانس ........ ۱۲

## مقدمه

د اوونۍ تحلیل په دې ګڼه کې د ټول هېواد په کچه د ناامنیو د زیاتوالي، د سولې په تړاو د نوي حکومت او وسله والو مخالفینو ترمنځ د پټو خبرو اترو او د افغانستان په تړاو د ناټو او لندن د کنفرانسونو په تړاو د ستراتېژیکو او سیمه ییزو څېړنو مرکز، د څېړنیزې څانګې شننې لولئ.

د ملي وحدت د حکومت له جوړېدو وروسته، ورځ تر بلې د هېواد امنیتي وضعیت د خرابېدو په لور روان دی، چې یوازې پلازمېنه کابل په تېرو څو ورځو کې د ګڼو خونړیو بریدونو شاهد و؛ خو په افغانستان کې د سولې او امنیت په اړه د نوي حکومت د دریځ او اغېز په تړاو، بېلابېل نظرونه شته دي.

دا ناامنۍ داسې مهال زیاتېږي، چې کابو یوه میاشت وروسته په افغانستان کې د نړیوالو ځواکونو پوځي ماموریت بدلون مومي او د ناټو په غونډه کې د ناټو سرمنشي د خپل نوي ماموریت رسمي اعلان وکړ. د دې ترڅنګ د لندن کنفرانس هم داسې مهال جوړېږي، چې افغان حکومت د خپل ضعف او داخلي اختلافاتو له کبله تر دوو میاشتو په زیات وخت کې د کابینې پر جوړولو نه دی توانېدلی.

دا چې د افغانستان د سولې برخلیک د ملي وحدت د حکومت له جوړېدو سره په کوم لوري روان دی؟ په دې اړه د دغه حکومت اقدامات څه ډول دي؟ او په افغانستان کې د ناټو نوی پیلېدونکی ماموریت افغانستان کوم لوري ته بیایي؟ هغه موضوعات دي چې دلته یې د شننو تفصیل لولئ:

# افغانستان و جنگی که به بن‌بست رسیده است



از کودتای کمونیستی در سال ۱۹۷۸ تاکنون افغانستان شاهد جنگی است که باگذشت حدود ۳۷ سال، هنوز پایانی برای آن متصور نیست. جنگی که نسل دوم حتی سوم از جنگجویان آنرا ادامه می‌دهند و گویی تجربهٔ نسل اول این پیکار خونین، برای نسل‌های بعدی کافی نیست. در این جنگ مصیبت‌بار هر نسلی می‌خواهد تا تجربهٔ خود را داشته باشد و شکست خود را تجربه نماید.

جهاد علیه اتحاد شوروی و دولت دست‌نشانده اش به کشته شدن حدود یک ونیم ملیون افغان انجامید. در جنگ میان تنظیم‌های جهادی نیز هزاران تن کشته شدند. پس از آن جنگ میان طالبان و جبههٔ متحد نیز هزاران کشته برجا نهاد و با حملهٔ امریکا به افغانستان تاکنون در سال ۲۰۰۱ نیز خون‌های بسیار ریخته شده است.

## آمار کشته‌های طالبان از سال ۲۰۰۱:

دشوار خواهد بود اگر بخواهیم آمار دقیقی از تلفات انسانی این دوره از جنگ، ارائه کنیم. حملهٔ امریکا به افغانستان در ۷ اگست سال ۲۰۰۱ آغاز گردید و تا ۷ دسامبر ۲۰۱۴ دقیقا سیزده سال و چهار ماه از این یورش به افغانستان، سپری می‌شود. در طول این ۴۸۶۵ روز، نهادهای امنیتی افغان تقریبا هر روز از کشته شدن تعدادی طالب مسلح در جریان عملیات نظامی نیروهای افغان و خارجی، خبر می‌دادند که حتی گاهی تعداد کشته‌ها از مرز یکصد نفر نیز می‌گذرد. آمار ماه نوامبر از کشته شدن بیش از ششصد طالب در عملیات مختلف در سراسر افغانستان، خبر می‌دهد.

اگر کشته شدن افراد مسلح طالبان بدست نیروهای خارجی و افغان را بصورت بسیار محتاطانه و در حداقل تعداد یعنی روزانه ۱۰ نفر در نظر بگیریم، در طول سیزده سال و سه ماه گذشته ۴۸۶۵۰ تن از آنان باید کشته شده باشند.

البته این تمام آمار کشته شده‌های طالبان نیست بلکه در روزهای اول حملهٔ امریکا به افغانستان، هزاران طالب در شمال افغانستان بصورت دسته‌جمعی دستگیر وکشته شدند که تعداد دقیق آنان تا این اواخر مشخص نبود. چند روز قبل جنرال عبدالرشید دوستم در برابر رسانه‌ها افشا کرد که نیروهای تحت فرمان وی در زمان حملهٔ امریکا به افغانستان در سال ۲۰۰۱ بیش از ۴۵ هزار تن از افراد القاعده را دستگیر کردند.

افشای این راز تنها به معنای دستگیر کردن افراد نیست، همانگونه که این افراد همه اعضای القاعده نبودند. جنرال دوستم طالبان را هم القاعده بشمار آورده است وگرنه همه می‌دانیم که حضور ۴۵ هزار نفر از افراد القاعده در دوران طالبان در افغانستان، بدور از تصور است.

اگر فرض کنیم که دو هزار تن از آنان عضو القاعده بودند، بیش از چهل هزار تن آنان از طالبان بودند. از سال ۲۰۰۳ بعد، فقط سه هزار نفر از این زندانیان از زندان‌های تحت فرمان نیروهای جنرال دوستم بشکل گروه‌های کوچک آزاد شدند و باقی آنان یعنی حدود چهل هزار نفر در شمال افغانستان (گم) شدند. بنابراین گم شده‌ها را هم باید به شمار کشته شده‌های طالبان اضافه کرد. به این ترتیب تا امروز باید بیش از ۸۰ هزار تن از جنگجویان طالب در افغانستان کشته شده باشند، اما این گروه بجای ضعیف شدن با قدرت بیشتر به جنگ ادامه داده است.

## تلفات نیروهای افغان:

اما اینها تنها تلفات نظامی جنگ افغانستان نیستند و تلفات نیروهای نظامی و انتظامی افغان شامل اردو و پولیس ملی و پولیس محلی را نیز باید در این اعداد وشمار شامل سازیم. به گزارش صدای امریکا که در ۶ نوامبر ۲۰۱۴ میلادی، در کمتر از یازده ماه گذشته ۴۶۳۴ منسوب نیروهای امنیتی و دفاعی افغانستان در نبرد با مخالفین مسلح دولت و دیگر رویدادهای امنیتی هلاک گردیده است. بقول دگر جنرال جوزف اندرسن، یک مقام ارشد نیروهای امریکایی در افغانستان، این رقم تلفات برای نیروهای افغان "تاب آوردنی" نیست.

اگر تعداد تلفات نیروهای افغان در این سیزده سال را بصورت اوسط سالانه فقط هزار نفر یعنی در مجموع ۱۳ هزار نفر تخمین نمائیم، در این صورت در طول سیزده سال گذشته مجموع تلفات نظامی شامل طالبان و نیروهای افغان به بیش از ۹۰ هزار تن می‌رسد.

## کشتار غیرنظامیان:

این نکته روشن است که در جنگ سیزده سالهٔ افغانستان تعداد کثیری از غیرنظامیان نیز در جنگ جان باخته‌اند. در اینجا بحث بر سر این نیست که کدام طرف بیشتر غیرنظامی را کشته است بلکه بحث بر سر کشته شدن افغانهاست.

آماری که دوطرف جنگ، یعنی طالبان از یک طرف و نیروهای دولت افغانستان و متحدین خارجی اش از جانب دیگر ارائه می‌دهند، ارائهٔ یک آمار دقیق‌تر را ناممکن می‌سازد و معمولا تلفات غیرنظامی در مناطق دورافتاده کمتر مجال انعکاس در رسانه‌ها را می‌یابد؛ اما هم دولت افغانستان و هم نهادهای بین‌المللی، تلفات غیرنظامی در افغانستان را از تلفات نظامی خیلی بیشتر می‌دانند.

اگر در یک تخمین محتاطانه شمار تلفات غیرنظامی در افغانستان را برابر با تلفات طالبان بدانیم، در این صورت باید به کشته‌های قبلی ۸۰ هزار دیگر را اضافه کنیم. که مجموع تلفات طالبان، نیروهای افغان و غیرنظامیان به بیش از ۱۷۰ هزار نفر خواهد رسید.

شکی نیست که ابعاد این مصیبت، تنها به کشته‌ها خلاصه نمی‌شود. مجروحین و معلولین جنگ در کشوری چون افغانستان، نه تنها خود محکوم به مرگ تدریجی اند بلکه خانواده‌های شان نیز به سرنوشت مشابه مواجه می‌شوند.

## وقتی جنگ به بن‌بست می‌رسد:

تاریخ افغانستان نشان داده که حضور نیروهای خارجی در این کشور همیشه انگیزه‌ای برای جنگ بوده است. بنابراین دوام حضور خارجی می‌تواند به معنای دوام این انگیزه بخصوص در میان روستا نشینان باشد که با امضای قرارداد امنیتی تقویت شده است.

از جانب دیگر این مسئله کاملا مشخص است که بزرگترین نیروهای نظامی زمان، مانند انگلیس‌ها، روس‌ها و سرانجام امریکا و ناتو موفق به تامین صلح در این کشور از راه جنگ نشدند؛ بنابراین رسیدن به این هدف توسط نیروهای افغان نیز ناممکن است. چون در این جنگ هیچ جهتی شانس پیروز شدن ندارد، هیچ جهتی هم بصورت کامل شکست نخواهد خورد و این به معنای بن‌بست در جنگ است که با گذشت زمان، پابرجا خواهد ماند و هرگونه تلاش به منظور پیشرفت در کشور را مانع خواهد شد.

بنابراین رسیدن به صلح از راه مذاکره با مخالفین باید از نخستین اولویت‌های کاری دولت وحدت ملی باشد در غیرآن این جنگ و مصیبت‌های آن می‌تواند تا ده‌ها سال دیگر نیز ادامه یابد و در تداوم خویش (آنگونه که در کشورهای دیگر تجربه شده) گروه‌های به مراتب تندروتر و خشونت‌گراتر را به میدان آورد.

## له طالبانو سره د ملګرو ملتونو تر څار لاندې خبرې اترې



که اقتصادي ډیپلوماسي د اشرف غني د بهرني سیاست مهم عنصر دی، نو له طالبانو سره خبرې اترې او د افغانستان سوله هم د ده د بهرنیو چارو مهمه برخه بلل کېږي. د اشرف غني له واک ته رسېدو سره سم، له طالبانو سره د سولې په تړه دربدلې پروسه بیا ګړندۍ شوه. د ډېری شنونکو په اند سعودي، چین او بیا پاکستان ته د ولسمشر سفرونو دا بهیر یو ځل بیا راژوندی کړ او ویل کېږي، چې اشرف غني د سولې په اړه یوه ځانګړې طرحه لري.

خو اوس داسې خبرونه هم خپاره شوي، چې ولسمشر غني هم د پخواني ولسمشر حامد کرزي په پله قدم ایښی او له طالبانو سره یې پټې خبرې اترې پیل کړې دي. د ایکسپرس ترېبیون په نوم د یوې پاکستانۍ ورځپاڼې په یوه راپور کې راغلي، چې دا خبرې اترې د ملګرو ملتونو تر څارنې لاندې پیل شوې دي او موخه یې په سیاسي واک کې د طالبانو شریکول دي.

دا په داسې حال کې دي، چې په وروستیو دوو اوونیو کې یوازې په کابل کې ۹ خونړي بریدونه شوي او له امله یې د کابل امنیه قوماندان جنرال ظاهر هم استعفا ته اړ شو. د ځینې شنونکو په اند که دا خبرې په رښتیا هم پیل شوې وي، د سولې لپاره د ولسمشر د هڅو ښکارندویي کوي او ولسمشر د سولې د اړتیا لپاره خپلې هلې ځلې ګړندۍ کړې دي.

## د سولې پټې خبرې:

پاکستانۍ انګلیسي ژبې ورځپاڼې "اېکسپرس ترېبیون" د ملګرو ملتونو تر څار لاندې له طالبانو سره د ولسمشر اشرف غني له پټو خبرو پرده پورته کړې؛ خو ملګرو ملتونو تراوسه د دغه راپور د تایید او یا رد په تړاو څه نه دي ویلي. په دې اړه نور جزئیات هم نه دي په ډاګه شوي، چې ایا دا خبرې نېغ په نېغه د حکومت او طالب استازو ترمنځ پیل شوې او که د نورو منځګړو کسانو په مرسته؟ او همدا راز دا خبرې په کوم ځای کې پیل شوې دي؟

له دې وړاندې په قطر کې د افغان حکومت او طالبانو ترمنځ هغه مهال د سولې پروسه په ټپه ودرېده، چې پخواني ولسمشر حامد کرزي د طالبانو لپاره په قطر کې په پرانېستل شوي دفتر د "اسلامي امارت" تر نامه لاندې لوحې سره مخالفت وکړ. اوس یو ځل بیا طالبانو ته نژدې سرچینو ویلي، چې ښایي اشرف غني به د قطر دفتر نه یوازې دا چې په رسمیت وپېژني، بلکې په هغه دفتر به د طالبانو د بیرغ پورته کولو اجازه هم ورکړي؛ خو پر دفتر به "د افغانستان اسلامي امارت" لوحه نه راځړوي.

د دغه پاکستاني اخبار له مخې په اسلام اباد کې پاکستاني چارواکو هم ولسمشر ته ژمنه ورکړې، چې دوی به د افغان حکومت او طالبانو ترمنځ د سولې خبرو د بریالیتوب لپاره همکاري وکړي. د سرچینې په وینا، نوی افغان ولسمشر له طالبانو سره د خبرو لپاره د پخواني ولسمشر په پرتله ډېر لېوال دی او طالبان یې هم اوس دې ته چمتو کړي، چې د ملګرو ملتونو تر چتر لاندې به د پخلاینې په پروسه کې ګډون کوي.

د دې ترڅنګ په کابل کې هم د سولې په اړه یو شمېر منځګړي کسان، د اشرف غني د کاکا قیوم کوچي او د طالبانو ترمنځ خبرو اترو ته اشاره کوي، چې د دوی په اند قیوم کوچي له طالبانو سره پخوانۍ اړیکې درلودې او څو ځله یې قطر ته هم سفرونه کړي وو او له طالبانو سره یې خپل نظرونه شریک کړي وو.

ویل کېږي، چې اشرف غني هم له خپل تره څخه غوښتي، چې د سولې پروسه مخته بوځي. په همدې تکل قیوم کوچي ارګ ته د اشرف غني له تګ څخه وړاندې او د ولسمشرۍ د پایلو له اعلان څخه وروسته په اماراتو کې له یوه طالب چارواکي سره لیدلي او همدغه طالب چارواکي بیا دوې اوونۍ وړاندې کابل ته هم سفر درلود؛ خو دغه منځګړي بیا په دې نظر دي، چې دغه طالب چارواکي په خپل سر له قیوم کوچي سره لیدلي او وروسته یې بیا طالبانو ته د خپل دغه سفر په اړه سپیناوی کړی او سفر یې رد کړی دی. دا چې که دغه کتنه د طالب مشرتابه له مشورې پرته شوې، نو په ټولیز ډول دا هڅه تر ډېره بریالۍ نه ښکاري. دا کتنې به هغه مهال ګټورې وای، چې د طالبانو او حکومت بانفوذه کسانو برخه پکې اخېستې وای، ترڅو د دوی ترمنځ د باور فضا زیاته شوې وای.

تر اوسه ثرګنده نه ده، چې د اېکسپرس ټربیون ورځپاڼې د قیوم کوچي همدغو کتنو ته اشاره کړې او که د افغان حکومت او طالب استازو ترمنځ کومې بلې کتنې ته؟ پخوا هم څو ځله اوازې خپرې شوې وې، چې امریکایانو له ځینې جعلي طالبانو سره خبرې اترې کړې دي او دا ځل هم داسې شکونه شته، چې نوي افغان حکومت هم ښایي له داسې کسانو سره اړیکه نیولې وي، چې یا خو د طالبانو په لیکو کې اغېزناک خلک نه وي او یا پخواني طالبان وي.

## نوی حکومت او د افغانستان نړیوال مرستندویان



د افغانستان ولسمشر اشرف غني او د حکومت اجرایوي رئیس ډاکټر عبدالله د بلجیم په پلازمېنه بروکسل کې، د ناټو د بهرنیو چارو وزیرانو په غونډه کې ګډون وکړ. که څه هم د ځینې شنونکو په اند، د ناټو د بهرنیو چارو وزیرانو غونډې ته د ولسمشر سفر د پروتوکول له مخې نامناسب و؛ خو د دوی په باور اشرف غني او ډاکټر عبدالله په دغه غونډه کې د مرستو راجلبولو لپاره ګډون وکړ.

د ناټو د بهرنیو چارو وزیرانو دې غونډې ځکه هم ارزښت درلود، چې دغه سازمان د سږ کال تر پایه خپل جنګي ماموریت په افغانستان کې پای ته رسوي او د دې غونډې موضوع په افغانستان کې د نوي ماموریت لپاره پر چمتووالي خبرې اترې وې.

له ولسمشر غني او ډاکټر عبدالله سره یو شمېر نورو افغان چارواکو هم په دې سفر کې ملتیا کوله چې وروسته یې په بریتانیا کې د لندن په کنفرانس کې ګډون وکړ.

### په افغانستان کې د ناټو نوی ماموریت:

له ۲۰۰۱ کال راهیسې ناټو د خپل تاریخ تر ټولو لوی ایتلاف سره چې له ۵۰ هېوادونو جوړ و، د امریکایانو ترڅنګ پر افغانستان برید وکړ. هغه مهال او تر ۲۰۱۰ کال پورې د ناټو مجموعي سرتېري کابو ۱۳۰ زره وو، چې د ۲۰۱۵ کال له پیل سره به دا شمېره له افغانستان سره د لاسلیک شوي امنیتي تړون له مخې ۱۲۵۰۰ سرتېرو ته راټیټه شي.

د ناټو د بهرنیو چارو وزیرانو په غونډه کې د ناټو سرمنشي ینس ستولټنبرګ په افغانستان کې د ناټو د نوي ماموریت د قاطع ملاتړ تر نامه لاندې په رسمي توګه اعلان کړ، چې د ۲۰۱۴ کال له ختمېدو سره او د ۲۰۱۵ کال په پیلېدو سره به په افغانستان کې د ناټو نوی ماموریت پېل شي.

که څه هم ټاکل شوې، چې کابو یوه میاشت وروسته به د ناټو جګړه ییز ماموریت پای ته رسېږي او افغان ځواکونو ته به د هغوی د مشورې ورکولو او روزنې ماموریت پیلېږي؛ خو دا چې په وروستیو دوو اوونیو کې یوازې په کابل کې ۹ چاودنې شوې او د ټول هېواد امنیت د پخوا په پرتله ډېر خراب شوی، دا پوښتنه له افغانانو او نړیوالو سره مطرح ده، چې آیا افغان ځواکونه به د دې وړتیا ولري چې د دا ډول پېښنو مخه ونیسي؟ دا مهال د افغان امنیتي چارواکو له څرګندونو جوتېږي، چې د ناټو د پوځي ماموریت له پای ته رسېدو وروسته به هم له ایتلافي ځواکونو مرسته غواړي او هغوی به هم په جګړه کې د افغان ځواکونو ملاتړي وي؛ ځکه په تېرو دیارلسو کلونو کې افغان ځواکونه څه ډول یې چې تمه کېده، تجهیز نه شول.

له بلې خوا د ناټو سرمنشي هم ویلي، چې په افغانستان کې به د ناټو له جنګي ماموریت وروسته، افغان ځواکونه د طالبانو له سختو بریدونو سره مخ شي او په یو ډول ناټو خپله هم په افغانستان کې د ناامنیو د دوام وړاندوینه کوي. د هېواد د راتلونکي امنیتي وضعیت په تړاو د ناټو او افغانستان ترمنځ د بدبینیو او خوشبینیو په چاپېریال کې، د ناټو روزنیز ماموریت ناشونی برېښي او یوازې د افغان جګړې د اوږدېدو په معنا دی.

همدا راز د افغانستان لپاره د ملګرو ملتونو ځانګړي استازي "هیسم" د ناټو په غونډه کې د افغانستان د ستونزې وروستۍ حل لاره جګړه نه بلکې سیاسي حل وباله؛ مګر یوه سیاسي حل ته له رسېدو مخکې د امریکا او ناټو پر پوځي حضور سلا بیا یوازې او یوازې د جګړې د دوام په معنا ده، نه د سولې او سیاسي حل.

ولسمشر غني په خپله وینا کې د ناټو پر دیارلس کلن مارموریت نیوکه وکړه، چې ګویا په افغانستان کې یې یوازې د خپلو ګټو لپاره جګړه کړې او په افغانستان کې شته ننګونې لاهم پر خپل ځای پاتې دي. ښاغلی غني هم د خپلې واکمنۍ په راتلونکې دوره کې د ناټو د ماموریت او د جګړې د دوام په تړاو اندېښنه لري.

په دغه غونډه کې د افغانستان پر موضوع سربېره د اوکراین په اړه هم جدي خبرې اترې وشوې او داسې برېښي، چې ناټو تر ډېره له افغانستان څخه په اروپا کې د اوکراین د قضیې لپاره د روسانو پر خلاف د نوي ایتلاف جوړولو په هڅه کې ده او په افغانستان کې به یوازې خپل حضور ساتي. د ناټو سرمنشي هم په غونډه کې دې خبرې ته اشاره وکړه، چې "موږ د خپلو اتحادیانو ساتنه کوو او له خپلو ملګرو سره همکاري کوو".

## د لندن کانفرانس:

له ۲۰۰۱ کال راهیسې د افغانستان په اړه ګڼ نړیوال کنفرانسونه جوړ شول، چې لومړی او دویم بُن، د روم، پاریس، جرمني، کابل، د اسیا زړه، شیکاګو، توکیو او اوس د لندن کنفرانسونه یې مهم کنفرانسونه وو او په دې ټولو کنفرانسونو کې له افغانستان سره تر ۸۰ ملیارده ډالرو زیاتې مرستې وشوې.

په اوسني کنفرانس کې هم د شاوخوا اویا هېوادونو او نړیوالو بنسټونو استازو په لندن کې له افغانستانه د بهرنیو ځواکونو له وتلو وروسته د دغه هېواد د راتلونکي په اړه خبرې وکړې؛ خو دا کنفرانس د توکیو د کنفرانس یوه برخه وه، ترڅو د افغانستان د ښې حکومتولۍ او اداري فساد په اړه ځوابونه پکې وړاندې شي؛ ځکه نړیوال او خپله افغانان هم د پراخ اداري فساد له کبله د نړیوالو د مرستو پر ناسم لګولو نیوکې لري.

که څه هم ولسمشر غني د ښې حکومتولۍ او اداري فساد پر ضد د مبارزې په تړاو خپله تګلاره د لندن په کنفرانس کې روښانه کړه؛ خو د داکتر عبدالله او د اشرف غني ترمنځ د اختلافاتو له کبله دوی پر دې بریالي نه شول، چې د لندن له کنفرانس مخکې کابینه اعلان کړي. دا چې دوی د لندن کنفرانس له جوړېدو مخکې د کابینې پر جوړولو ونه توانېدل، داسې برېښي چې له افغانستان سره به د نړیوالو د مرستو پر راجلبولو منفي اغېز وښندي. په ۲۰۱۲ کال کې هم د توکیو په کنفرانس کې دا پرېکړه شوې وه، چې له افغانستان سره به د مرستو شرط د ښې حکومتولۍ جوړول او له اداري فساد سره مبارزه وي او بیا اوس د ناټو په غونډه کې د دغه سازمان سرمنشي هم دا خبره د شرط په دود تکرار کړه، چې له افغان ځواکونو سره د مرستو ژمنه کوي؛ خو دا غوښتنه یې وکړه چې افغان حکومت هم باید خپلې ژمنې عملي کړي.

د افغانستان د مدني ټولنې لسګونو غړو هم د لندن په کنفرانس کې ګډون وکړ، چې تر ډېره د دغه کنفرانس اغېزو ته خوشبین ښکاري او د امریکا د بهرنیو چارو وزیر هم پر یوه سیمه ییز ځواک د افغانستان د بدلولو ژمنه وکړه؛ مګر په ټولیز ډول عام افغانان په هېواد کې د یوه سهامي شرکت په څېر حکومت، پر راتلونکي بې باوره دي او د افغانستان لپاره د دغه کنفرانس ژمنې بې ګټې ښکاري. د لندن په کنفرانس کې له یوه هېواده د دوو مشرانو مساوي ګډون دا روحیه پیاوړې کړې ده.

ولسمشر په خپله وینا کې د افغانستان خراب اقتصادي حالت د افغانستان ستره ستونزه وبلله؛ خو افغانستان په اوسني وخت کې، چې د ناامنیو څپه د تېرې څه باندې یوې لسیزې په پرتله ډېره ځواکمنه شوې، تر هر څه زیات سولې او امنیت ته اړتیا لري؛ مگر د نوي حکومت له جوړېدو او کړو اقداماتو داسې ښکاري، چې د سولې دروازې د افغانانو پر مخ تړل کېدونکې دي. پای

**ارتباط با ما:**

ایمیل:info@csrskabul.com – csrskabul@gmail.com

وب سایت: www.csrskabul.com

شمارهٔ تماس: 784089590 (93+)